# Khabaroona Wrazpanna
## Newspaper Nachrichten Peshawar

Daily Khabroona Peshawar 5 Wednesday April 2006

ورځپانه

چیف ایډیټر سهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف ډار

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

پېښور پاکستان

# خبرونه

☎ 2571251 2571253


| شماره 97 | چهارشنبه 5 اپریل 2006 ، 6 ربیع الاول 1427ھ ق 16 حمل بیعه 4 روپی | جلد 3 |
|---|---|---|

# ډاکټر کبیر ستوري په حق ورسېد

## ارواښاد د پښتو نامتو شاعر او د نفسیاتو ماهر و

## د خداي بخښلی عمر ۶۴ کاله ښودل شوی دی

پېښور (خبرونه خبر) د نفسیاتو



ډاکټر کبیر ستوري

نامتو ماهر او د جرمنی سوشل ډیموکراټیک ګوند ستر مشر او نامتو پښتو شاعر ډاکټر کبیر ستوری جرمنی کښې په حق ورسیدو د اطلاعاتو ترمخه د ارواښاد عمر 64 کاله وه اولنۍ تعلیم په افغانستان او ستر تعلیم ئې جرمنی نه ترلاسه کړے وو ، د یوې اطلاع ترمخه د ارواښاد 13 کتابونه خپور کړے شوی دی په کوم کښې چې د شاعرۍ او د نفسیاتو په اړه کتابونه شامل دی ارواښاد د جرمنی راډیو نه د پښتو د بیلا بیلو پروګرامونو نشر کولو کارنامه هم ترلاسه کړی ده ، د ارواښاد سیاسی مشرانو اجمل ختک ، افضل خان لالا او نورو مشرانوسره اړیکې هم لرلې .

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN

ورځپانه

چیف ایډیټر
سهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار

پېښور
پاکستان

خبرونه

فون
2323553
2322402

ورځپانه خبرونه پېښور صفحه (5) 16 اپریل 2006ء

اجمل خټک

# د کبیر ستوري مړینه د پښتو ادب زیان دی

## کبیر ستوري یو ملي شخصیت و، د کوزے او برے پښتونخوا د ادیبانو په زړونو کښې ځای لري

## کبیر ستوري په سیاسي ډګر کښې د پښتنو یووالي لپاره نه ستړي کیدونکې هلې ځلې کړي دي

## د نوموړي په مرګ ټول پښتانه خفه دي ، فاتحې غونډې ته وینا

پېښور (خبرونه خبر) د عوامي نیشنل پارټۍ غړي اجمل خټک وئیلي دي چې کبیر ستورے د لر او بر پښتنو د یو والي د پاره ډېرې هلې ځلې کړې دي دده مړینه د پښتون اولس د پاره ستر زیان دے، دا خبرې اجمل خټک تېره ورځ

بقیه نمبر 4 صفحه 5

پاتې 4

اجمل خټک

په سپین جومات کښې د کبیر ستوري د فاتحې د مراسمو په غونډه کښې د وینا په وخت وکړې او زیاته ئې کړه چې زه د کبیر ستوري په مړینه ډېر خفه شوے یم، پښتو ادب د پاره د کبیر ستوري هلې ځلې د هېرېدو نه دي

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN

ورځپانه
چیف ایډیټر
سهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار
پېښور
پاکستان

# خبرونه

فون
2323553
2322402

ورځپانه خبرونه پېښور صفحه (5) 16 اپریل 2006ء

اجمل خټک

# د کبیر ستوري مړینه د پښتو ادب زیان دی

## کبیر ستوري یو ملي شخصیت و، د کوزې او برې پښتونخوا د ادیبانو په زړونو کښې ځای لري

## کبیر ستوري په سیاسي ډګر کښې د پښتنو یوالي لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي

## د نوموړي په مرګ ټول پښتانه خفه دي ، فاتحې غونډې ته وینا

پېښور(خبرونه خبر) د عوامي نیشنل پارټۍ غړي اجمل خټک وئیلي دي چې کبیر ستورے د لر او بر پښتنو د یو والي دپاره ډېرې هلې ځلې کړې دي دده مړینه د پښتون اولس دپاره ستر زیان دے، دا خبرې اجمل خټک تېره ورځ

بقیه نمبر 4 صفحه 5

## پاتې 4 اجمل خټک

په سپین جومات کښې د کبیر ستوري د فاتحې د مراسمو په غونډه کښې د وینا په وخت وکړې او زیاته ئې کړه چې زه د کبیر ستوري په مړینه ډېر خفه شوے یم ، پښتو ادب دپاره د کبیر ستوري هلې ځلې د هېرېدو نه دي

ABC CERTIFED http://www.dailysubh.com
Email: Dailykhabroona@gmail.com

Daily Khabroona Peshawar 13 Friday April 2007

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ABC Certified

Member A.P.N.S

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN

ورځپانه

چیف ایډیټر
سهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار

پیښور
پاکستان

خبرونه

فون 2323553
2322402

جلد 3 | جمعه 13 اپریل 2007ء 24 ربیع الاول 1428ھ ق 24 حمل بیعه 4 روپی | شماره 98

# د ډاکټر کبیر ستوري دلومړي تلین په اړه غونډه نن کیږي

## دغونډې په وخت به آزاده مشاعره کېږي اروابناد ته دعقیدت پیرزوئنې وړاندې کولې شي

## غونډه کښې به نامتو لیکوالو ، شاعرانو او ملی شخصیتوو په بشپړه توګه ګډون کوی

پیښور (سراج عارف) په پیښور کښې داروابناد ډاکټر کبیر ستوري دلومړي تلین په مناسبت ځانګړې غونډه کیږی. غونډه دپښتو عالمی کانګرس له خوا را بللے شوی چې ورته به وینا وال دکبیر ستوری په سیاسی مبارزه خبرې کوی او په پائې کښې به آزاده مشاعره هم ترسره شی غونډه نن ماسپخین له دریو څخه تر ماښام 7 پورې دپیښور په پریس کلب کښې جوړیږی

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپاڼه

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN

چیف ایډیټر
سهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف ډار

پېښور
پاکستان

# خبرونه

2571251
2571253

چیف ایډیټر: پبلشر سهیل شمشاد ، ایډیټر محمد اشرف ډار
پرنټر ، شمشاد احمد د پېښور ارټ پریس 5FA سمال انډسټریل
اسټیټ کوهاټ روډ پېښور نه چاپ کړو او د ورځپاڼې خبرونه دفتر نشتر اباد نه ئې خپور کړو
E subh@pes.comsats.net<ph2571251-2571253-Fax;2566086


Daily Khabroona Peshawar 13 Friday April 2007

## د ډاکټر کبیر ستوري د کلیزې په اړه نن یو سیمینار کیږي

پېښور (خبرونه خبر) د عالمي پښتو کانګرس د سیورې لاندې د ډاکټر کبیر ستوري کلیزه نن د پېښور پریس کلب کښې ۳ بجې کیږي په دې موقعه به یو مشاعره هم کیږي چې په کښې به د پښتو نامتو لیکوالان او شاعران خپل کلامونه اوروی د عالمي پښتو کانګرس پریس سکتر حمید الرحمان نادان وئیلی دی چې په دې اړه عالمي پښتو کانګرس ټول انتظامات مکمل کړے شویدی او ټولو شاعرانو او لیکوالانو ته بلنې هم لیږلے شویدی حمید الرحمان نادان ووئیل که چرې چاته د ډاکټر کبیر ستوري د کلیزې بلنه نوی میلاو شوې نو د غه شاعرانو او لیکوالانو د اخبار په ذریعه بلنه ورکولے شی چې په دې سیمینار کښې ګډون وکړی حمید الرحمان نادان ووئیل چې ډاکټر کبیر ستوري د پښتو ادب لپاره کوټلی اقدامات کړی وو چې د ستائینې وړدی

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپانه

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN

چیف ایډیټر
سهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف دار

پېښور
پاکستان

# خبرونه

☎ 2571251
2571253


14 اپریل 2006

## غزل


عبدالوهاب سرتیر (جرمني)


یو ستوری ؤ کبیر چې له مداره ځیني ووت
دژوند له دی نیمګړی شان بازاره ځیني ووت

خوا خوږی مهربانه اومین په پښتوږبی
په اړو کښې زمونږ اړوله کاره ځیني ووت

مرګی ئې په بې رحمی سره چمن ته مخه کړی
کبیرمولکه ګل چې د ګلزاره ځیني ووت

خفه په پښتنو یم چې دسرخلق ئې سرخوری
کوم ستوری چې زمونږ د شب تاره ځیني ووت

کبیر داسې پښتون ؤ مور راوړی چې ((سرتیره))
د نرخ ځیني ونه ووت خو د ښاره ځیني ووت

ABC CERTIFED http://www.dailysubh.com
Email: Dailykhabroona@gmail.com

حق باطل سره مه گډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ABC Certified

Member A.P.N.S

ورځپانه

DAILY KHABROONA PESHAWAR PAKISTAN

چیف ایډیټر سهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرونه

فون 2323553 2322402

جلد 3 | شنبه 14 اپریل 2007ء 25 ربیع الاول 1428ھ ق 25 حمل بیعه 4 روپۍ | شماره 99

Daily Khabroona Peshawar 14 Saturday April 2007

# د ډاکټر کبیر ستوري دلومړۍ تلین غونډه

## دغه غونډه دپښتو عالمي کانګریس لخوا رابلل شوې وه چې ګڼو لیکوالو په کښې برخه واخیسته

پېښور (خبرونه خبر) دډاکټر کبیر ستوري لومړی تلین دپښتو عالمي کانګرس له خوا یوې غونډې په ترځ کښې ولمانځل شو په دې اړه دپېښور په پریس کلب کښې ستره غونډه وشوه چې په کښې افضل خان لالا، پروفیسر جهانزیب نیاز ، ایم پی اے ارشد خان ، بیګم معراج همایون ، ډاکټر سید عالم مسعود دخبرونو نیوز ایډیټر سراج عارف ، سب ایډیټر اسد خان اسد ،فاروق فیراق ، لایق زاده لایق ، فریدون خان ، دعالمي پښتو کانګرس جنرل




د کبیرستوری د لومړی تلین د غونډه کښې افضل خان لالا جهانزیب نیاز او نورمشران لیدے شي

سیکتر حمید الرحمان نادان، فاروق ختك ، معظم خان معظم ارشد هاشکار ، ډاکټر محمد عالم یوسفزی ، شهاب الدین ایډوکیټ او نور ګڼو لیکوالانو ، شاعرانو او ادیبانو ګډون وکړو دې دډاکټر کبیر ستوري په سیاسی ژوند او نورو سیاسی اړخونو رڼا واچوله او زیاته ئې کړه چې ډاکټر کبیر ستوری دپښتو ژبې تل خدمت کړیدے او دده دپښتو ژبې دپاره نه هیردونکی هلې ځلې کړیدی ده په جرمنی کښې د"پښتون سوشل ډیموکرایټیك" په نوم ئې یو ادبی ګوند جوړ کړے وُ په دې مهال دډاکټر کبیر ستوری ځوی نصیر ستوری هم خبرې وکړې او وویل چې زما پلار دپښتو ژبې چې څومره خدمت کړیدے هغه هم دچانه پټ نه دے او ده په پښتو ژبه کښې 13 کتابونه لیکلې دی چې یوه ډیره دفخر خبره ده ده وویل چې کبیر ستوری نن مونږ سره نیشته خو دهغې یادونه او دهغه دپښتو ژبې خدمتونه به تل مونږ یاد ساتو او چې څوك هم پښتو ژبه لولی نو ډاکټر کبیر ستوری به تل دهغوئ په زړونو کښې ژوندی وی

ABC CERTIFED http://www.dailysubh.com

حق باطل سره مه گډ وئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY KHABROONA PESHAWAR PAKISTAN

ورځپانه

چیف ایډیټر سهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرُونه

فون 2323553 2322402

Daily Khabroona Peshawar 16 Sunday April 2006

جلد 3 | یکشنبه 16 اپریل 2006 ء 17 ربیع لاول 1427ھ ق 27 حمل بیعه 4 روپۍ | شماره106

# په پېښور کښې د کبیر ستوری فاتحه واخستل شوه

## فاتحه په ځانگړو مذهبي مراسمو سره ترسره شوه

### فاتحه کښې د کوزے او برے پښتونخوا نامتو سیاسي او ادبي شخصیتونو برخه واخسته

پېښور (آنډیوال) د پښتو ژبې د شاعر او لیکوال کبیر ستوری د فاتحې مراسم په پرتمینو مراسمو سره د پېښور په سپین جومات کښې ترسره شول ، دغه مراسم چې د سهار د 8 بجو څخه پیل د غرمې تر 12 بجو پورې ئې دوام درلود ، په دې وخت کښې د کوزې او برې پښتونخوا نامتو لیکوال او د کبیر ستوری خواخوږی ډلې ډلې مسجد ته راتلل او د کبیر ستوری په حق کښې ئې دعا کوله ، فاتحې ته د نورو لیکوالو او سیاسي مشرانو برسېره اجمل خټک ، غلام احمد بلور ، بشیر احمد بلور ، افضل خان لالا ، فضل دین خټک ، سلیم بنگش ، اباسین یوسفزے ، د عوامي نیشنل پارټۍ مرور او په پیپلز پارلیمنټیرین کښې داخل شوے غړے فرید طوفان د ننگرهار د اطلاعاتو او کلتور رئیس محمد هاشم غمشریك ، جمهوری ریاست ته پخوانے کاندید عبدالهادی خلیل زے ، لیکوال او شاعر عبدالصمد مومند ، د افغان اسلامي اژانس مشر محمد یعقوب شرافت ، د افغان ملت گوند په استاځی توب محمد عثمان زیارمل ، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیاد مرکز په استاځی توب عجب خان اکرامی او فضل قادر انډیوال برخه اخستې وه ، د فاتحې په مراسمو کښې لیکوالو او شاعرانو په هغه کتاب کښې د کبیر ستوری په اړه خپل تاثرات لیکل چې د کبیر ستوری د خواخوږو لخوا په جومات کښې ایښودل شوے وو

ورځپانه

حق باطل سره مه ګډ وئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN

ورځپانه
چیف ایډیټر: سُهیل شمشاد
ایډیټر: محمد اشرف ډار
پېښور پاکستان

خبرُونه

☎ 2323553
2322402

5 اپریل 2006

# ډاکټر کبیر د پښتو ادب بشپړ خدمت کړېدے ـ لائق زاده لائق

## د کبیر ستوري مړینې سره د پښتو ادب ځلنده ستورے ډوب شو

پېښور (خبرونه خبر) د ریډیو پاکستان کواټ سټېشن ډائریکټر او نامتو شاعر لائق

تیه نمبر 42 صفحه 5

پاتې 43 لائق زاده لائق

زاده لائق د نفسیاتو د ماهر او مشهور شاعر ډاکټر کبیر ستوري په مرګ ژوره غمرازي ښکاره کړېده او وئیلي دي چې د پښتو ادب ځلنده ستورے ډوب شو او یو ځلې بیا د پښتو ادب په باغ تیاره خوره شوه ، ده ووئیل چې ډاکټر کبیر ستوري یو انسان دوسته او میلمه دوست سره سره یو نرپښتون وو، کبیر ستوري

که په جرمنی کښې استوګن وو خو د پښتون قام او پښتو ژبې ادب ویر به ئې شپه ورځ کوو، او هم دا وجه وه چې کله به په پښتو ژبه کښې په هریو هیواد کښې دستوره یا سیمینارونو کبیر ستوری به ورله د جرمنی مستی هواګانې پرېښودې او د پښتو ژبې او ادب د ښیرازۍ دپاره به هغه دستوره کښې د ګډون دپاره تلو هغه ته اخره پورې د پښتو ژبې او ادب غم کړے دے

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپاڼه
DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN
چیف ایډیټر سهیل شمشاد
ایډیټر محمد اشرف ډار
# خبرونه
پېښور پاکستان
2571251
2571253

5 اپریل 2006ء

# ډاکټر کبیر د ادب ځلنده ستوری و، افضل خان لالا

## د پښتو ادب پرمختګ لپاره د ارواښاد کوښښونه د چا نه پټ نه دی

## ارواښاد د پښتو ادب ترقی لپاره تاریخی هلې ځلې کړېدی

پېښور (خبرونه خبر) ستر سیاسی مشر افضل خان لالا د نفسیاتو ماهر او نامتو شاعر ادیب ډاکټر کبیر ستوری په ناڅاپی مرګ د ژوری خواشینی څرګندونه کړې ده او وئیلی دی چې ډاکټر کبیر ستوری د پښتو ادب او پرمختګ لپاره تاریخی هلې ځلې کړې دی

حق باطل سره مه گډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN


ورځپاڼه
چیف ایډیټر
سهیل شمشاد
ایډیټر محمد اشرف یار

# خبرونه

پېښور
پاکستان

☎ 2571251
2571253

شماره | Daily Khabroona Peshawar 14 Friday April 2006 | جلد

# ډاکټر کبیر ستوري فاتحه سبا کیږي

## اروابناد پلرنی کلی کونړ افغانستان کښې خاورو ته سپارل شوی دے

**فاتحه به په یونیورسټی روډ سپین جومات کښې کیږي، شاعرانو او ادیبانو ته بلنه ورکول کیږي**

پېښور (خبرونه خبر) د پښتو نامتو ادیب او شاعر او جرمنۍ کښې د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند مشر اروابناد ډاکټر کبیر ستوري

بقیه نمبر 23 صفحه 5

پاتې 23 // کبیر ستوري

او فاتحه به په پنځلسم اپریل سپین جومات کښې د سهار اتو بجو نه ترغرمې دولسو بجو پورې کولے شي ټولو دوستانو او د پښتو ادیبانو او شاعرانو ته په فاتحه کښې د ګډون بلنه ورکړے کیږي خداې بخښلي د تیرو 44 کالو راسې په جرمنۍ کښې استوګن وو او د پښتو ویر پښتون قام په یوه لاره راجمع کولو لپاره ئې اهم کردار ترسره کړیدے

ABC CERTIFED http://www.dailysubh.com

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (البقره)

ورځپاڼه

DAILY KHABROONA PESHAWAR PAKISTAN

چيف ايډيټر سهيل شمشاد

ايډيټر: محمد اشرف ډار

پيښور پاکستان

خبرُونه

فون 2323553 2322402

جلد 3 | پنجشنبه 13 اپريل 2006 ، 14 ربيع لاول 1427ھ ق 24 حمل بيعه 4 روپۍ | شماره 104

Daily Khabroona Peshawar 13 Thursday April 2006

ورځپاڼه خبرونه پيښور صفحه (5) 13 اپريل 2006ء

# کبير ستورے کونړ کښې خاورو ته وسپارل شو

**د نوموړې کورنۍ د ټولو دوستانو او خواخوږو څخه هيله کړې چې د اپريل په ۱۵ په فاتحه کښې برخه واخلی**

پيښور (خبرونه خبر) د پښتو د نامتو ليکوال او شاعر او د پښتون سوسيال ديموکراتيک

بقيه نمبر 33 صفحه 5

پاتې 33 // کبير ستوری فاتحه

ګوند مشر ډاکټر کبير ستوری فاتحه د شنبې په ورځ په 15 اپريل په يونيورسټی روډ پروت سپين جومات کښې د سهار د 8 څخه تر 12 بجو پورې اخستلے کېږی ، په دې فاتحه کښې د ډاکټر کبير ستوری د کورنۍ لخوا د پښتو ټولو ليکوالو او شاعرانو ته بلنه ورکړے شوې ده د يادونې وړ ده چې ډاکټر کبير ستورے د تېرو 44 کالو راهيسې په جرمنی کښې اوسيده ، د اروا پوهنې په څانګه کښې ئې دکتوره درلوده ، 13 کتابه ئې ليکلی او د پښتنو ليکوالو په ډله کښې ئې ځانګړے نوم درلود ، په 4 اپريل په جرمنی کښې د زړه د حملې له امله مړ شو ، او د کونړ په ولايت کښې خاورو ته وسپارل شو

ABC CERTIFED http://www.dailysubh.com

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (البقره)

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN

ورځپاڼه
چیف ایډیټر
سهیل شمشاد
ایډیټر: محمد اشرف ډار

# خبرونه

پېښور
پاکستان

فون
2323653
2322402

Daily Khabroona Peshawar6 Thursday April 2006

| شماره 98 | پنجشنبه 6 اپریل 2006ء 7 ربیع اول 1427ھ ق 17 حمل بیعه 4 روپۍ | جلد 3 |
|---|---|---|

# د ډاکټر کبیر ستوري په مرګ د مختلفو سیاسي او ادبي مشرانو غمرازي

**د خدائي بخښلي خدمات دستائنې وړدي، ظاهر بابري، ارواښاد د پښتو ادب تاريخي باب وُ، احمد سعيد سعيدي**

**داسي ادبي خلق د پېړو پېړوپس پيدا کېږي، غلام بلور، خدائي بخښلي پښتو شاعرۍ ته نوے رنګ ورکړے وُ سيدولي خيال**

**خدائي بخښلي د پښتون دقامي يووالي لپاره ځانګړے کردار ترسره کړيدے چې نه هيريدونکے دے، لائق زاده لائق**

پېښور (این این ائی) د افغانستان ستر د انشور او سیاسی او سماجی شخیصت ډاکټر کبیر ستوری په جرمنی کښې په حق رسیدلے دے، دده په مرګ ګڼو سیاسی سماجی او ادبی مشرانو د غمرازۍ څرګندونه کړې ده، او دده په کور راحت اباد پېښور کښې غمرازی کړې ده، د اے این پی ستر س[illegible] مشر افضل خان لالا، حاجی غلام احمد بلور، میاافتحار حسین د اکادمی ادبیاتو پېښور ډائریکټر سیدولی خیال، د ریډیو پاکستان کواټ ډائریکټر لائق زاده لائق، د افغان قو نصلګرۍ نمائنده، احمد سعید سیعدی او محمد ظاهر بابری د لراوبر پښتانه ادیبان، شاعران او سیاسی مشران دده کور ته لاړل

ورځپانه خبرونه

# د کونړ ستورے پناه شو

هو ماته یاد دی یوه ورځ ماته زما محترم مشرافضل خان لاله ووئیل ((هلکه سبا له به زما یو ډیر درونډ او ګران میلمه ((ستورے)) د جرمنی نه راځی ته به ځان هوائی ډګر ته په وخت ورسوې چې په راتلو کښې ورته کوم کړاؤ پیښ نه شی )) د لاله د دې وینا سره زما د ذهن په پرده ډیر عکسونه الوول شول خو ما پکښې د ((ستوری)) یقین ونه کړے شو دا د کال 1996 خبره ده چې کله افضل خان لاله د کشمیر د چارو وفاقی وزیر وُ او زه ورسره پرائیویټ سکتر وم الوتکه سحروختی د اسلام اباد هوائی ډګر ته راورسیده .. او بیا د المان د ښائستونو ستورے اسلام اباد ته راغے د هغه کوردانې هم د هغه سره وه ما دستوری په سترګو کښې حیاګانې ولیدې د هغه په ژوند کښې مې ((پښتو)) ولیده دهغه په فکر کښې مې قام پرستی محسوس کړه د هغه ټول خویونه او د هغه ټول کړه وړه ماته خپل ښکاره شول هم د غه وجه وه چې د وخت رفتارستورے ماته رانزدې کړواو ما د هغه په خورو وروپلوشو کښې د ځان موندنې کوښښ وکړو.

هغه د کونړ د خاورې ځلنده ستورے وُ چې د وړومبی تعلیم نه پس سردار داوُدخان په دولتی توګه المان ته د پی ایچ ډی دپاره ولیږلو . هغه چې څنګه په خپله خاوره ښکاره وُ دغه شان ئې په جرمنی کښې هم د ډاکټرۍ ډګری په امتیاز سره ترلاسه کړه ،

د خپل وطن او خپلې خاورې نه لرې والی د ستوری په مزاج کښې یوه پټه محرومی پیدا کړه او چې کله هم دغه محرومی په لفظونو کښې ځاې شوه نو ساندې شعرونه ترې جوړ شول لکه د لوئې احمدشاه بابا د کونړ دغه ((کبیرستوری)) هم هره لحظه او هره لمحه د خپلې پښتنې خاورې ارمان وکړو هغه د خپل ناقراره احساساتو د تکور دپاره په المان غږ راډیو کښې د علمی ژوند ابتدوکړه د هغه مرکې د هغه تبصرې او د هغه وینا ګانې په هرچا ښې ولګیدې او دغه رنګ د ستوری ځلانوره هم سیوا شوه.

هغه هر وخت د پښتون قام په بده ورځ وژړل او چې کله ئې دا ارمان اوپاریدو چې دپښتون قام د وحدت دپاره عملی ګام واخلی نو په المان کښې ئې د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند بنیاد کیښودو د دې ګوند لویه فائده دا مینځ ته راغله چې د هر بې کوره او مسافر پښتون ته د سرسیورے ترلاسه شو ډلې ډلې پښتانه ستوری نه راغونډیدل او په خپلو محرومیو او بدمرغیو به ئې جرګې مرکې کولې.

ددغه ګوند غږ پښتونخوا ته راورسیدو او بیا د دې

## لیک: لائق زاده لائق

منطقې ټول قام پرست مشران د ستوری صیب په بلنه المان ته لاړل او دغه رنګ کبیر ستوری د بې کوره پښتنو د سیاسی بیدارۍ دپاره یو داسې کوښښ وکړو چې بل کوم چا ئې سوچ هم نه وکړے هغه به دفخر افغان باچاخان او د هغه د ټولې کورنۍ د غړو نه علاوه د نورو قامی مشرانو سره خپلې اړیکې ټینګې ساتلې ولې په دې وارو کښې ئې د افضل خان لاله سره د وروروليٰ او کورکلی تعلق وُ.

چې کله په افغانستان کښې حالاتو بیا بیا چورلکو نه وخوړل نو ستورے په دې ډیر وردریدو هغه ټوله ټوله شپه ویښه تیره کړه او د افغانستان د بیا ودانۍ سوالونه ئې وکړل دا ځکه چې هغه په خپل اولس او خپل قام مئین وُ.

ښاغلے کبیر ستورے د یو سیاسی لارښود سره سره یو قام پرست شاعر هم وُ ماچې کله د هغوی ځنې شعرونه د پښتونخوا د نوموړو شاعرانو په اوازونو کښې د خورولو کارپیل کړو نو روروستورے صیب د سیاسی مشرانو نه علاوه عام اولس هم وپیژندو هغه چې کله هم پاکستان ته راغلے نو ډلې ډلې پښتنو شاعرانو ورسره ناسته وکړه او د هغه د سیاسی فکرونو ئې اثرواخستو هم دغه ستورے وُ چې د پښتو په نامه هر جوړیدونکی تقریب ته به په خصوصی توګه د المان نه راتلو هغه په صحافیانو هم ډیر مئین وُ او اکثر به ئې وئیل چې دا دپښتنو اصل سترګې دی چې خپل اولس ته لارښائی د پښتنو صحافیانو هم د هغه سره یوه مینه وه یو تعلق وُ چې بنیادی محورئې زمونږ درنه مور ((پښتو)) وه.

د ښاغلی کبیرستوری درنې درنې خبرې ماته اوس هم ښې یادې دی . هغوی به وئیل چې زمونږد قام بدبختی داده چې د یو کارپوره کولو نه وړاندې چغې جوړې کړو کار سرته ونه رسی ځکه چې زمونږ د حقونو دښمنان د دغه کار د وړاندې نه لاړ ونیسی ځکه نو د وخت نه مخکښې چغې وهل خوندنه کوی لامو قدم د عمل اخستے نه وی د منزل درسیدو سندرې وایو،

هغه یوباعمله پښتون وُ کله چې ورته د المان حکومت بیا بیا ووئیل چې ته د جرمنی پاسپورټ واخله نو هغه به وئیل چې زه خپل افغانیت بدلولو ته تیار نه یم .

که هر څو کبیرستوری د جرمنی په رنګینو کښې ساه ګانې اخستې خو د پښتونخوا مینې د خپل وطن نه لرې والی هغه د زړه مریض کړو یو کال وړاندې چې کله ډاکټرانو د هغه طبی معائنه وکړه نو ورته حیران شول چې د زړه دوه والونه ئې بې کاره دی او ستورے بیا هم خپله خلانه کموی ډاکټرانو ورته بیا بیا د عملیاتو (اپریشن) ووئیل خو دښاغلی کبیرستوری د عملیاتو نه کرکه وه هغه به وئیل چې مړښه یم خو دې ته تیار نه یم او بیا هم هغسې وشوه چې کله هغه د 3 اپریل 2002ء په شپه د خپلو زامنو او خپلو نورو مینه والو سره په خندا خندا خبرې وکړې نو چا هم دا ګمان نه شو کولے چې ګنې دا د کونړ د ستوری اخری پلوشې دی هغه لکه د نور کله په وخت اوده شو خو دغه خوب ډیر ازغن وُ په 4 اپریل 2002ء سهار وختی هغه په خوب کښې ولړزیدو کوروداني ورپسې منډه کړه چې معلوم کړی څه چل پرې شویدے خو چې د مخ نه ئې ورله څادر پورته کړونو دلوئې فلسفی لیکوال شاعر ډاکټر کبیرستوری دواړه سترګې دخپل وطن په ارمان وازې پاتې شوې وې د هغه د ژوند ملګرې هغه ته اوازونه کول ولې د هغه ارمانی ارمانی تښتیدلی رنګ هغے ته وئیل چې

پاتې صفحه 4

# خبرونه ورځپاڼه - پېښور

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند PSDP د مشر اروابناد ډاکتر کبير ستوري پر ناڅاپي مړينه د پښتنو سياستوالو، ليکوالانو او شاعرانو ليکنې او د غمرازي او خواشيني څرګندونې

## Condolences on the passing of Dr. Kabir Stori

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN

ورځپاڼه
چیف ایډیټر
سهیل شمشاد
ایډیټر محمد اشرف ډار
پېښور
پاکستان

# خبرونه

2571251
2571253

جلد ۱ | جمعه 14 اپریل 2006ء | شماره 93

پاڼې برخه
د کونړ ستوري
پناه شو

14 اپریل 2006

پېښور ورځپاڼه خبرونه

## پاڼې 1 // لیک: لائق زاده لائق

زما د ژوند ملګرې
ستا په جذبو پوهیږم
ستادلیمو په تل کښې
راغلی اوښکې وینم
خو غږ کولے نهٔ شم
ماخووئیل چې زهٔ به
لاد ژوندون په لاره
وړاندې ګامونه اخلم
دغه تالاپښتون به
چرته راټول ووینم
په خپل تالاهیواد کښې
به دسپرلو رنګونه
خواره واره ووینم
زما وړه "سحرا" ئې
به د وختونوسره
په لوئیدو ووینم.
زما "پتوال"به چرته
زما دسترګووړاندې
خپل زلمی توب ووینی
زما پوهیالن به ماته
د خپل ژوندون سندره
په تته ژبه وائی
زه به "پختان" په ژوند کښې
په لوئیدو ووینم
زما"سلمی" او"ښکلا"
هم " ولوله " نیازبینه
به شې راپیغلې چرته
زما داټول بچی به
مانه چاپیره ناست وی
"سمون" به هم یو ځلې
وړې خبرې زده کړی
ماته به ټول بچوړی
وائی بابا نیازبینه
هڅوچې غم ونهٔ کړې
مونږه به ټول لتانه
لکه د سپرلی ځاریږو
خو زما د ژوند ملګرې
ژوندون وفاونهٔ وکړه
زهٔ د اولس غمونو
ډیر زوروله یمه
په خپل کونړ پسې زهٔ
ډیر کړیدلے یمه
ما په پردی وطن کښې
چرته ایسارچې نه کړې
زما دروح په مری
نورې چاړې مهٔ ږدی
زه خپل وطن ته ځمه
زه خپل وطن ته ځمه

(واوینو کښې بندنومونه د ستوری صیب دنمسودی که یو خواد ډاکټرکبیرستوری وازو سترګودغه ساندې وئیلی نوبل خوا دهغوی په کور کښې ماتم جوړوٴ د هر چا په سترګو کښې اوښکو چورلکو نه خوړل دغه اطلاع چې پېښور ته را ورسیده نو دلته د هغه مشر زوے ډاکټر بصیر ستوری نه یوٴ دوه خطا شول هغه د خپل پلار په ارمانی ژوند په چغو چغو وژړل د هغه مشر وروروکیل عبدالجلیل لکه د ماشومانو رنې رنې اوښکې توئې کړې هغه دومره قدرې ووئیل.
دمرګ نه خلاصون نیشته خو زما ستورے زما کبیرخان ډیر ارمانی مړشو..
دکبیرستوری دمرګ خبر په ټوله پښتونخوا کښې لکه د اور د لمبې خورشو او د قام پرستانو مشرانو ډلې ډلې راحت اباد ته روانې شوې خلق به راځی ویرونه به کیږی ژړاګانې به کولے شی خو د پښتوژبې د خدمت او عظمت هغه ستورے پناه همیشه همیشه دپاره پناه شویدے د چاپلوشی چې د المان نه ترلوئې افغانستان پورې خوریدې په ګورئې نورشه آمین.

ورځپاڼه
چیف ایډیټر سهیل شمشاد
ایډیټر محمد اشرف ډار
DAILY KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN
پېښور پاکستان
# خبرونه
2571251
2571253

جمعه ۲۶ رمضان، ۲۱ نومبر 2003

چیف ایډیټر: پبلشر سهیل شمشاد ،ایډیټر محمد اشرف ډار
پرنټر، شمشاد احمد دپېښور ارټ پریس 5FA سمال انډسټریل
اسټیټ کوهاټ روډ پېښور نه چاپ کړو او دورځپاڼې خبرونه دفترنشترآباد نه ئې خپور کړو
E subh@pes.comsats.net<ph2571251-2571253-Fax;2566086


دا پیغام د لیونی دے
د سندرو باد روړے
څومره خوږ څومره شیرین دے
دا سلام د لیونی دے
د وږمو فریاد روړے
څومره درد څومره غمګین دے

دا پیغام د یو پښتون دے په پښتو کښې پښتنو ته چې زړے هم دے رښا هم لری ښکلا او سوچ هم پیغام یو لوی لفظ دے چې ځان کښې وسعت هم لری او معنی هم. دوخت لویو لویو ذهنونو وخت په وخت خپل پیغامونه خپل اولس ته رسولی دی ډاکټر کبیر ستورے هم په هغه ذهنونو کښې شامل دے د ډاکټر صیب پیغام د پښتو کلتور او د خپلې خاورې سره تړلے دے او هغه ذهنونه خپل روایاتو پله رابللې چا چې خپلې ژبې او ثقافت نه شا کړې ده او خپله بدبختی ورته په ډاګه کوی:

ګناه د بل چانه ده دا زمونږ
خپله ګناه ده
پښتو ، پښتو نولی ته
اړولی چې مو شاه ده
پښتو تش ژبه نه ده دا د
ژوند ښکلے قانون دے
پښتو او پښتون تورو کښې
ښه لویه مانا ده

د ډاکټر صیب پیغام ساده روان او سپیڅلے دے موسیقت لری هره لیکنه ئې مقصد او معنویت لری چاته پکښې د خپل سوال جواب نو چا پکښې دخوبونو تعبیر او چاته پکښې خپل حق دغوښتنې تقاضا او چاته پکښې دحق

## ستورے د ادب که د اسمان

ورکولو یاداشت. چاته پکښې د خپل ژبې د غوښتنې ارمان نو چاته پکښې د ژبې ازادی. د مئین پرې مینه ماتیږی نو دتږی پرې تنده ماتیږی. څوک ترې مینه اخلی نو څوک ترې سبق اخلی.

ښکلا پرسته ده ښائسته
ښکلے جهان غواړی
د محبت جذبه په زړه کښې
د انسان غواړی
په دې پوهیږی چې بې
مینې ژوند ګلان نه نیسی

### فیاض شاداب

للمه د ژوند د مینې ښه په
شرك باران غواړی

خوبولی را ویښول او شبګیر وده کول د ډاکټر صیب خوبی ده په ژوند او په انسان مئین دے د ژوند صفت پیژنی. نورو سره د دغه تړون او دغه رشتې پیژندګلی دده د سوچ او دده د فن کمال دے دا ډاکټر صیب د هڅو نتیجه ده چې په خپل پیغام رسولو کښې کامیاب شوے دے او تر کومه حده پورې هغه دسندریز پیغام د لوست نه کیدے شی. چې د ډیرو تجربو نخوږ پکښې ډیر په واضحه او په آسانه تر لاسه کیدے شی.

ډاکټر کبیر ستورے چې د خپلې خاورې نه ډیر لری وسی او په یوه داسې سمیه کښې په داسې خاوره کښې چې دے ئې پیژنی خو هغه ئې نه پیژنی دغه وجه ده چې دخپل خاورې او وطن سره مینه ئې زوروی هم او ښادوی هم.

ډاکټر صیب دبرعالم فاضل سړے نظم او نثر دواړه لیکی بې تمیره کتابونه ئې چاپ شوی دی. په سندریز پیغام کښې د نظم او غزل ژبه بیخی سوچه او پښتنه ده. دخپل هیواد نه لرے د یورپ په فضاګانو کښې هم ډاکټر صیب د ګودر. منګی او دپښتوالی خبرې کوی.

ستورے په وطن مئین دے
نه دے په شین خال مئین
ټوله شپه ګزمه د پښتونخوا
په سر دردو کوی

دا دوه شعرونه ئې وګوری:

پښتو کوم ، پښتو پالم
پښتون ځلمے یمه زه
د پښتو سر خپل زاروم د
قام بچے یمه زه
د اتفاق او وروروولی تخم
مالت کښې کرم
وږمه د سولې خپرومه
پسرلے یمه زه.

دډاکټر صیب ستوری غزل د نظم په مائل دے په غزل کښې ئې دنظم رنګونه لیدل شی او زما په خیال دا جدید غزل تقاضا ده. دسندریز پیغام په غزلو کښې یوه نوې خبره مې دا نوټ کړه او هغه دا چې هر غزل د یو عنوان لاندې لیکلے شوے دے. لکه د "سلا" عنوان لاندې دا غزل:

لکه چې زړه دې زما زړه
سره سلا کړیده
زما په زړه چې وه هغه
خبره تا کړیده
نور د ریبار د زر لیږلو
حاجت پاتې نه شو
وعده د مینې دې په ډاګه
په رېښتیا کړیده

د بل غزل دا څو شعرونه ئې وګوری. "د خالونو نوکران" د عنوان لاندې:

ټول تبر ئې فخر په اوږو
ښکلو ویښتو کوی
هر مازیګر ئې ورته لوګې د
سپیلنو کوی
ډیره نازولې ده د مور او
پلار نیازبینه ده
قدر ئې په خپل کور کښې
د پشان د میلمنو کوی
ډرې او په څلورو معشوقو
له شیخ قانع نه دے
هره ورځ دعا کښې سوال د
حوادرو د کمځو کوی.

آخره کښې خبرې به په دې ټپه را ټولې کړو

په سفر ځی خال مې سهی
کړه
د انګلستان د جونو نشته
شنه خالومنه